محمد ایاز نوري آزادي

۱۶ آگست ۲۰۱۶

د هیواد افغانستان د آزادئ د حُصول د اوه نیویمي کالیزي په مناسبت د والاحضرت پاچا زوی ډاکټر احسان الله (د افغانستان) د مبارکي پیغام

****

د لوی خدای په نوم



گرانو وروڼو او خویندو، زما افغانانو!

تاسو هر یو ته د ځان او د اماني کورنی د ټولو غړو له خواء د سلام او مینی د رسولو سره یو ځای د ګران هیواد افغانستان د آزادي د ۹۷ کالیزي په مناسبت مبارکي وایم. د ۱۲۹۸ ل کال د اسد د میاشتی ۲۸ ورځ، ۱۹ د اګست ۱۹۱۹ز کال، حقیقتاً د افغانستان په نژدي تاریخ کښي یوه مهمه او د ویاړ ورځ ثبت شویده. په همدي ورځ د افغانستان پاچا اعلیحضرت غازي امیر امان الله خان زمونږ هیواد د یوه مستقل او استقلال درلودونکي هیواد په حیث اعلان او اړونده سند یي په پلازمیني کابل کي رسماً لاسلیک کړ. د هغه تاریخ څخه راپدي خواء افغانان هر کال دا ورځ په لویه خوښي او ویاړ یادوي او رسماً یي لمانځي.
له بلي خواء زه خواشینی یم او افسوس کوم، چي د افغانستان خلک سږ کال هم خپله د خپلواکي ورځ په داسی یو وضعیت کښي سره لمانځي، چي لا هم په هیواد کښي وسله واله جګړه روانه ده او هره ورځ زمونږ خپل افغانان په دي جګړه کي وژل او ټپیان کیږي. د ننني افغان دولت لپاره لومړی او ډېره اړینه دنده دغه ده، چي دغه روانې په هیواد کښي جګړي ته په یوه نوښت سره پای ورکړي. د دي لنډ پیغام په ضمن کښي تاسو عزیزانو ته دا خبر لرم، چي له دری کالو څخه راپدي خواء ما په خپل دوهم د تاریخ اړوند کتاب او دا وار د خپلي ګراني خور ناجیه بی بی په مرسته او ګډون کار پیل کړی وه اوس د لیکلو کار یي پای ته ورسید. کتاب زما د مرحوم پلار اعلیحضرت امان الله خان د بادشاهي او د هجرت د ژوند په رابطه، مونږ په ایټالوي ژبه ولیکه. هیله لرو ، چي بیا په راتلونکي یو محترم

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

افغان، چې په ايټالوي ژبه، شه برلاسی ولري دا کتاب په افغاني ژبه وژباړي او درنو افغانانو ته يې د مطالعې لپاره تقديم کړي.
په پای کښې د هر خپل هيواد وال لپاره مې شه روغتيا او په ګران افغانستان کښې د تل پاتې سولې او افغاني ورورولی په هيله، تاسو هر يو په مهربان الله سپارم.

د هيواد د خپلواکي په شهيدانو او غازيانو درود وايم.

ژوندی دي وي افغانستان

احسان الله (د افغانستان)

ژنيو ـ سويسزرلند
اګست ۱۹، ۲۰۱۶ ز کال

د پيغام دری متن

به نام خداوند بزرگ

عزيزانم برادران و خواهران افغان من!

از طرف خود و تمام اعضاء فاميل امانی به هر يک شما سلام و محبت خويش را رسانده و حلول ۹۷ سالگرد حصول استقلال افغانستان را به شما مبارک باد ميگويم. روز ۲۸ اسد سال ۱۲۹۸ هجری شمسی برابر به روز ۱۹ اگست سال ۱۹۱۹ ميلادی، حقيقتاً که در تاريخ معاصر افغانستان يک روز مهم و با افتخار ثبت گرديده است. در همين روز پادشاه افغانستان اعليحضرت امير امان الله خان غازی مملکت ما را يک کشور مستقل و صاحب آزادی اعلان و اسناد آنرا رسماً در پايتخت کابل امضاء کرد. از آن تاريخ ببعد افغانها هر سال اين روز را با خوشی بزرگ و افتخار ياد و رسماً
تجليل مينمايند .
از طرف ديگر من غمگين هستم و افسوس ميکنم که امسال هم مردم افغانستان روز جشن آزادی خويش را در حالتی تجليل ميکنند که در کشور ما جنگ مسلحانه جريان دارد و در اين جنگ روزانه افغانهای خود ما قتل و زخمی ميشوند. برای دولت موجود افغانی وظيفه اول و ضرور اين است که اين جنگ را توسط يک نوع ابتکار خويش متوقف بسازد .
در پايان اين پيغام کوتاه ام خبر ديگری به شما دارم که از مدت سه سال به اين طرف مصروف نوشتن کتاب دوم ام و اين بار با اشتراک و کومک خواهرم بی بی ناجيه کار نوشتن اين کتاب که در باره زندگی پدرم اعليحضرت امان الله خان در وقت پادشاهی و در وقت هجرت شان در خارج وطن ميباشد به پايان رسيد. کتاب به لسان ايتالوی نوشته شده و اميد داريم که اين کتاب در آينده توسط يک هموطن ما که لسان ايتالوی را خوب مسلط باشد، به زبان افغانی ما ترجمه شده و به مطالعه افغانهای ما قرار بگيرد. در آخر برای هر هموطن خود صحت خوب و به اميد استقرار يک صلح دايمی و برادری در افغانستان عزيز ما، هر يک شما را به خداوند مهربان ميسپارم.

درود ميگويم به شهيدان و غازيان راه استقلال وطن ما

زنده باد افغانستان

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ